مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کليوال ۲۰۲۳/۰۹/۱۶

# پوښتنه

خوک چي ګلان خرڅوي، اخلي به څه؟
خوک چي یاران خرڅوي، اخلي به څه؟

ژوند را پیل شویدی، د مور له ګریوان
چي دا ګریوان خرڅوي، اخلي به څه ؟

دنیا ښایسته ده، د جانان په سترګو
چي خوږ جانان خرڅوي، اخلي به څه؟

چی ایمان نه لری، جنت ته نه ځي
نو چي ایمان خرڅوي، اخلي به څه؟

ګران دی وطن، ګران موراوپلار اویار
آ چی دا ګران خرڅوی، اخلی په څه؟

لوړ دی د هرشی نه، ارزښت د وجدان
خو چی وجدان خرڅوي، اخلي به څه؟

مونږه خو هرڅه غواړو، ځان د پاره
هغوی چي ځان خرڅوی، اخلي به څه؟

اګست/۲۹/۲۰۲۳


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ